# الميسر في صفة الوضوء

## د اودس آسانه طريقه

ترتيب كونكى:

أ .د. أحمد بن محمد الخليل

(قصيم پوهنتون /د شرعياتو څانګه/ سعودي عربستان)

بسم الله الرحمن الرحيم

سریزه

الحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم وبارك على نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.

أما بعد:

ما چې کله د (لمونځ طريقه) په نامه کومه مختصره رساله وليکله، نو ځينو درنو ملګرو راته وړانديز وکړ چې د (اودس طريقې) په اړه هم يوه لنډه ليکنه وکړم، د هغوی دا وړانديز راته مناسب ښکاره شو، د اوداسه په هکله کومه تفصيلي څېړنه مې چې په لاندې درېوو کتابونو:

١ -شرح زاد المستقنع،

٢ -شرح بلوغ المرام،

٣ـ التوضيح المقنع، شرح الروض المربع.

کې کړې وه، چې د اختلافاتو، دلائلو او راجح قول په شمول ټول اړين معلومات پکې په تفصيلي ډول ذکر شوي، دغه څو پاڼې چې ستاسې محترمو لوستونکو مخې ته ايښي په حقيقت کې د همدغو پورتنيو کتابونو خلاصه او نچوړ دی. په دې مختصر کې به يوازې د راجح قول په ذکر کولو سره د اودس طريقه په روانو اوعام فهمه عبارتونو کې ستاسې پر وړاندې عرض کړم.

له الله تعالى څخه غواړم چې دغه کار په خپل دربار کې قبول کړي او د خپلې رضا او خوښۍ سبب يې وګرځوي.

ليکنه:

احمد الخليل

2/7/1440هجري

# الميسر في صفة الوضوء

## (د اوداسه آسانه طريقه)

1ـ د علماوو اجماع ده چې د اودس طريقه زده کول پر هرمسلمان فرض ده.

۲ـ اودس په اسلام کې له لوړو عباداتوڅخه دی.

۳ـ په شريعت کې د اودس ډېر فضائل راغلي دي، زيات حديثونه د دې وضاحت کوي چې اودس ګناهونه ختموي.

لکه څنګه چې په مسلم شريف کې د ابوهريره رضي الله عنه په روايت نقل دي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: (**ألا أدلكم على ما يمحو الله به الخطايا، و يرفع به الدرجات؟) قالوا :بلى يا رسول الله، قال: (إسباغ الوضوء على المكاره، و كثرة الخُطا إلى المساجد، و انتظار الصلاة بعد الصلاة، فذلكم الرباط فذلكم الرباط).**

**ژباړه** :آيا تاسي ته داسي څه ونه ښايم چې الله تعالى پرې ګناهونه ختموي او درجې اوچتوي؟ هغوی -صحابه کرامو- وويل: ولې نه اي د الله پيغمبره! رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل له تکليفونو سره سره بشپړ اودس کول، جوماتونو طرف ته زيات قدمونه اخستل او يوه لمانځه پسي د بل لمانځه انتظار، چې دا ستاسي رباط دالله په طاعت کې ځان مصروفول د [دا حديث امام مسلم په خپل صحيح کې روايت کړی دی، حديث نمبر:(۲۵۱)]. د (فذلكم الرباط) الفاظو تکرار د اهتمام او تعظيم الشأن په خاطر راغلی دی.

کله چې يو مسلمان د اوداسه اراده وکړي، نو له الله جل جلاله نه په مرستې او کومک غوښتلو سره دې د لاندې وضاحت په رڼا کې خپل اودس تر سره کړي:

۱ـ بايد د اودس لپاره نيت وکړي، دليل يې: د عمر بن الخطاب رضي الله عنه حديث دی چې نبي عليه السلام فرمايلي دي: (إنما الأعمال بالنيات وإنما لكل امرئ ما نوى).

**ژباړه:** بېشکه د عملونو دارمدار په نيت سره دی او د هر سړي لپاره –اجر- د هغه عمل دی چې نيت يې ورته کړی وي.

۲ـ درې ځلې د دواړه لاسونو وينځل مستحب دي.

۳ـ بیا دې خولې او پوزې ته اوبه واچوي، يو ځل يې فرض او درې ځلې مستحب دي.

۴ـ سنت طریقه دا ده چې خولې او پوزې دواړو ته یوه لپه اوبه واچول شي او په جلا جلا لپو هم جائز ده.

۵ـ د ځلور واړو امامانو په دې خبره اتفاق دی چې خولې او پوزې ته په ښي لاس اوبه اچول پکار دي او پوزه به په چپ لاس سوڼ کوي.

۶ـ مخ وينځل يو ځلې واجب دي او درې ځلې مستحب. دليل يې: (يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ). [المائدة :6]

ژباړه: اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی «اې مومنانو»! کله چې لمانځه ته پاځيږئ ـ د لمانځه اراده وکړئ ـ نو خپل مخونه ووينځئ.

۷ـ د مخ وينځلو واجب اندازه په اوږدوالي «طول» سره: د سر د ويښتانو د شنه کيدو له ځای څخه د زنې تر لاندينی برخې پورې. دغه تحديد د فقهاوو ترمنځ اتفاقي دی.

۸ـ د مخ وينځلو واجب اندازه په پلنوالي «عرض»: له يوه غوږ نه تر بل غوږ پورې او دا د ځلور واړو امامانو ترمنځ اتفاقي اندازه ده.

۹ـ که چېرې په مخ معمولی ويښتان وي او اندام ورځنې ښکاريږي، نو دغه ويښتان او اندام دواړه وينځل واجب دي، ويښتان ځکه واجب دي چې د فرض په ځای کې راختلي دي او دا د ځلور واړو مذاهبو اتفاقي خبره ده.

۱۰ـ که چېرې پر مخ ويښتان ګڼ وي، نو کوم ويښتان چې د مخ داخل حدودو کې وي وينځل يې واجب دي او کوم ويښتان چې له مخ نه را زوړند وي دهغو وينځل واجب نه دي.

۱۱ـ بيا به تر څنګلو پورې دواړه لاسونه ووينځي، الله تعالی فرمائی: (وَ اَيْدِيَكُمْ اِلَى الْمَرَافِقِ). [المائدة :6]

**ژباړ:** او خپل دواړه لاسونه تر څنګلو پورې پريمينځئ.

يو ځل وينځل واجب دي او درې ځلې مستحب.

۱۲ ـ بيا په اوبو سره د سر اوغوږونو يو ځلې مسحه واجب ده. الله تعالى فرمايي: (وَامۡسَحُوۡا بِرُءُوۡسِكُمۡ). [المائدة :6]

**ژباړه** :او خپل سرونه مسحه کړئ، هر ډول مسحه چې دې وکړه جائز ده، خو شرط يې دا دی چې واجب اندازه به مسحه کوئ.

**واجب اندازه**  د سر مخامخ برخې ويښتانو شنه کيدو له ځای نه تر څټ پورې.

۱۳ـ د سر او غوږونو بيا بيا مسحه کول د عامو علماوو په نظر مستحب نه دي.

۱۴ـ د مسحې سنت طريقه دا ده: چې د سر مخامخ طرف نه تر څټ پورې دواړه لاسونه يوسي او بيا يې بيرته هماغه ځای ته کش کړي چې شروع يې کړې وه. دليل: د عبدالله بن زيد روايت دی چې: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم (بدأ بمقدم رأسه، ثم ذهب بهما إلى قفاه، ثم ردهما إلى المكان الذي بدأ منه). [متفق عليه]

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم ـ مسحه ـ د سر له مخامخ برخې نه شروع کړه، بيا يې دواړه لاسونه ترڅټ پورې ورسول او بيا يې بيرته همغه ځای ته ورکش کړل له کومه ځايه يې چې شروع کړې وه.

۱۵ـ بيا به خپلې دواړه (د شهادت) ګوتې د غوږونو په سوربو کې ننباسي او په غټو ګوتو به د غوږونو بهرنۍ برخې مسحه کړي.

۱۶ ـ بيا به خپلې دواړه پښې تر ګيټو (ښنګرو) پورې ووينځي. دليل: (و أرجلكم إلى الكعبين). ژباړه: او خپلې پښې له ښنګرو سره ووينځئ.

يو ځلې وينځل يې واجب او درې ځلې مستحب دي.

هڅه به کوي چې واجب مقدار پوره ووينځل شي او کوم ځای پاتې نه شي، ځکه په حديث کې ورباندې سخت وعيد راغلی دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي: (ويل للأعقاب من النار). [رواه البخاري رقم/60]

**ژباړه :** په اور دې هلاک شي هغه کسان چې پوندو ته اوبه نه رسوي.

**او له عمر رضي الله عنه نه روايت دی: (أن رجلاً توضأ فترك موضع ظفر من قدم، فأبصره النبي صلى الله عليه وسلم، فقال: (ارجع فأحسن وضوءك، فرجع فتوضأ ثم صلى). [رواه مسلم]**

ژباړه: عمر رضی الله عنه وايي: يو سړي اودس وکړ خو په پښه کې يې د نوک په اندازه ځای له وينځلو نه پرېښود، رسول الله صلى الله عليه وسلم چې وليد، نو ورته ويې فرمايل: واپس شه، ښه پوره اودس وکړه، سړی واپس شو اودس يې وکړ او بيا يې لمونځ وکړ.

۱۷ـ په ترتيب سره اندامونه وينځل فرض دي، لکه څنګه چې د اوداسه په آيت کې راغلي دي چې: (يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ وَ اَيْدِيَكُمْ اِلَى الْمَرَافِقِ وَ امْسَحُوْا بِرُءُوْسِكُمْ وَ اَرْجُلَكُمْ اِلَى الْكَعْبَيْنِ) [المائدة 6]

په اوداسه کې ترتيب مراعت کول ضروري دی، يعني داسې دې نه کوي چې په وينځلو کې يو اندام له بل نه مخکې کړي، د مثال په توګه د پښو وينځل دې د لاسونو له وينځلو نه نه مخکې کوي.

۱۸ـ په پرله پسې او متصله توګه د اندامونو وينځل فرض دي، مطلب دا چې د يو اندام وينځلو کې دې دومره ځنډ نه کوي چې مخکنی اندام يې وچ شي، که دومره تاخير پکې وشي نو اودس يې فاسدېږي.

۱۹ـ له اودس نه وروسته دا دعاء ويل سنت ده: (أشهد أن لا إله إلا الله، وحده لاشريك له وأشهد أن محمداً عبده ورسوله).

ژباړه: ګواهي ورکوم چې له الله نه پرته بل هيڅوک د بنده ګۍ وړ نه دی هغه واحد دی او شريک نه لري او محمد صلى الله عليه وسلم د الله تعالى بنده او پيغمبر دی.

دليل: د عمر بن الخطاب رضي الله عنه حديث دی وايي: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ما منكم من أحد يتوضأ فيبلغ- أو: فيسبغ- الوضوء، ثم يقول: أشهد أن لا اله إلا الله، وأن محمداً رسول الله، إلا فتحت له أبواب الجنة الثمانية يدخل من أيها شاء. وفي رواية فذكر مثله، غير أنه قال: من توضأ فقال: أشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله). [اخرجه مسلم والترمذي]

ژباړه: په تاسو کې که څوک پوره اودس وکړي، هر اندام ته اوبه ورسوي او بیا دا دعاء ووایی چې :(أشهد أن لا إله إلا الله وأن محمداً عبده ورسوله) د جنت اته دروازې به ورته خلاصې شي، څوښه یې چې په کومه یوه باندې ننوځي.

په بل روایت کې په دې الفاظو سره راغلی دی چې: (من توضأ فقال: أشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله).(رواه مسلم)

* د قیامت په ورځ به د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر امتیانو د اودس نښې وي چې په هغو سره به پېژندل کیږي.

فعن نعيم المجمر رضى الله عنه قال: (رقيت مع أبي هريرة على ظهر المسجد، فتوضأ، فقال: إني سمعت النبي صلي الله عليه وسلم يقول: إن أمتي يدعون يوم القيامة غراً محجلين من أثر الوضوء, فمن استطاع منكم أن يطيل غرته فليفعل). (رواه البخاري) ژباړه: له نعیم المجمر رضي الله عنه نه روایت دی وایي: زه له ابوهریرة رضي الله عنه سره د جومات بام ته ختلی وم، ابوهریره رضي الله عنه اودس وکړ او ویې ویل: ما له نبي علیه الصلاة والسلام نه اوریدلي دي چې ویې فرمایل: د قیامت په ورځ به زما امتیان په داسې حال کې را وبللی شي چې د اوداسه د نښانو په وجه به سپین پرقیږي، څوک چې دا سپینوالی او ښایست زیاتول غواړي نو زیات دې کړي.

له حذیفه رضي الله عنه نه روایت دی، وایي: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (إن حوضي لأبعد من أيلة من عدن، و الذي نفسي بيده ،إني لأذود عنه الرجال كما يذود الرجل الإبل الغريبة عن حوضه، قالوا: يا رسول الله، وتعرفنا؟ قال:نعم، تردون علي غرا محجلين من آثار الوضوء ليست لأحد غيركم). [رواه مسلم]

ژباړه: له حذیفه رضي الله عنه نه روایت دی وایې: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: زما حوض له أيلة ــ د شام له ښارونو نه یو ښار دی ــ او عدن ــ یمن کې د یو ښارنوم دی ــ نه زیات لیرې ــ پراخ ــ دی، زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما نفس یې په لاس کې دی، لکه څنګه چې یو سړی له خپل حوض نه نا اشنا اوښان شړي، دغسې به زه هم ځیني خلک له خپل حوض نه وشړم، صحابه کرامو وویل: اې د الله پیغمبره! ته به مونږ پیژنې؟ رسول الله وفرمایل: هو، تاسې به ما ته په داسې حالت کې راشئ، چې د اودس د نښانو په وجه به مو تندي او پښې سپینې ځلیږي، چې له تاسې نه پرته بل هیڅوک به دا ــ نښې ــ نه لري.

له ابوهريرة رضي الله عنه نه يو بل روايت هم په دې الفاظو راغلي دی چې : قال: نعم، لكم سيما ليست لأحد من الأمم، تردون علي غرا محجلين من أثر الوضوء). [رواه مسلم]

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هو، ستاسي به داسي نښې وي چې لـه تاسي نه پرته بل هيڅ امت به يې نه لري، ما ته به په داسې حالت کې راشئ، چې د اودس د نښـانو په وجه به مو تندي او پښې تک سپين ځليږي.

وصلى الله على نبينا محمد و على آله و صحبه و من تبعه الى يوم الدين.